مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۱۲/۲۳

د ماشوم وړی او غابنونه

کله کله ماشوم خوله لګوي، د دې وجه معمولاً دوه څیزونه وي، یا یې غابنونه په راوتلو وي او وړی یې خارښت کوي او یا ماشوم عصباني او په غوسه وي. د ماشوم د وریو د کرارولو لپاره په درملتونونو کې رابړي شیان پیدا کیږي چې «بیره کش» یې بولي. دغه شی ماشوم ته ورکول کیږي چې یې په وریو باندې وچیچي.
غابنونه ان د مور په نس کې په ودې پیل کوي؛ خو لومړنی غابن معمولاً د ژوند له څلورمې تر اوومې میاشتې پورې راوځي. د یو نیم ماشوم اول غابن ډېر وختي، ان په درې میاشتني عمر کې راوځي او ځینې بیا تر یو نیم کلنۍ پورې بې غابنو وي. نادراً داسې هم کېدای شي چې ماشوم له غابن سره وزیږي.
اول سر کې د لاندې زامې دوه د مخې غابنونه، بیا د پاسنۍ زامې همدا غابنونه راوځي، ورپسې د اړخ او شاتني غابنونه پوره کیږي، ماشوم باید په درې کلنۍ کې شل غابنونه ولري. دغه غابنونه موقتي وي او له شپږ کلنۍ وروسته، چې دایمي غابنونه سر راپورته کوي، دا بیا لوبړي.
ځینې خلك ګومان کوي چې د غابن ایستلو پر وخت ماشوم تبه کوي، پوزه یې بهېږي او له نسه خرابېږي؛ خو ډاکټران وایي چې دا نظر ناسم دی. زوکام او اسهال ممکن د میکروبونو په وجه تصادفاً په دې وخت کې راپیدا شي. دغه ناروغۍ له غابن ایستلو سره هېڅ رابطه نه لري. دغه مهال د ماشوم وړی خارښت کوي او هغه هر څه خولې ته منډې چې د وریو خارښت پرې غلی کړي، ممکن په همدې وجه میکروب یې نس ته ننوځي او په اسهال یې اخته کړي. یو نیم ډاکتر بیا وایي چې دې وخت کې د ماشوم د خولې اوبه ډېرېږي، ماشوم دغه اوبه تېروي. د خولې اوبه کولمې ښویوي او د اسهال سبب ګرځي. د اکثرو ماشومانو غابنونه بې له کوم جنجاله راوځي؛ خو ځینې یې ممکن دغه تکلیفونه تېر کړي:

_ د نارې بهېدل
_ د وریو پرسوب او درد
_ بد خلقي
_ چك لګول
_ له خوراکه ډډه کول
_ بد خوبي

که د ماشوم نارې بهېږي، په پاك نخي ټوکر باندې یې په کراره پاکې کړی. کله کله د نارو په وجه د ماشوم د خولې شاوخوا شړېږي، که داسې شوي وي، په واسلین یې غوړ کړئ.
د وریو د درد او خارښت لپاره بیره کش ورکړئ. که ماشوم غټوکی وي او خوراك کولای شي، نو یخي مستي هم ورکولای شئ. کلك بیسکوټ هم د وریو خارښت کراروي. ځینې خلك په دې وخت کې ماشوم ته ګاځري ورکوي چې ویې چیچي؛ خو له ګاځرو سره دغه خطر هم مل وي چې کومه ټوټه به یې د ماشوم تنفسي لارو ته لاړه شي او ساه یې تربته کړي. په پاکه ګوته د ماشوم د وریو سولول هم د خارښت چاره کولای شي. که ماشوم ډېر په عذاب وي، نو د ډاکټر په مشوره د درد ځاځکي ورته ورکولای شئ.
د ماشوم د وریو او غابنونو پاکول مهم دي. مخکې تر دې چې د ماشوم غابنونه راوځي، کولای شئ پاك ټوکر په ګوته تاو او د ماشوم وړی په نرمۍ سره پاکې کړئ. همدا چې د ماشوم غابنونه راووتل، وړکی برس ورته واخلئ او بې له کریمه یې غابنونه ورته برس کړئ. باید د غابنونو دواړه خواوې برس شي. دې سره به ماشوم د غابنونو په برس کولو روږدی شي.
که ماشوم د نورو په مخ یا لاس خوله لګوي؛ نو بیره کش یې چاره ده. که د دې شي علاج ونه کړئ، نو بیا ماشوم په چیچلو روږدی کیږي او بیا به هم تاسې او هم نور ځنې په عذاب وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ